# د بې روزګارۍ اسباب

17-October-2024



هفته وار د سُنَّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(for Islamic Brothers)

پۀ 17 اکتوبر کال 2024ء (13 ربيعُ الآخر، کال 1446ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# د بے روزگاری اسباب

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- غريب په فائده کښې دے
- غريبي هُم يو نعمت دے
- حلال گټل هم عبادت دے
- پۀ لږ رزق باندې د راضي کيدونکي انعام

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُالْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اِسلامی)

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ اللّٰہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ اللّٰہ

**نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَافِ** (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د اربعین عطّار، قسط: 2، صفحه: 5، حدیثِ پاک نمبر: 5 دے:

**د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** اِجۡعَلُوۡنِیۡ فِیۡ وَسۡطِ الدُّعَاءِ وَفِیۡ أَوَّلِهٖ وَفِیۡ آخِرِهٖ یعني ما د دُعا په مینځ، شروع او اخره کښې ساتئ۔ [1]

**وضاحت:** یعني تاسو په ما باندې د خپلې دُعا په شروع کښې، مینځ کښې او اخره کښې دُرود رالیږئ۔

نبی کی شان میں ہو جس قدر درود پڑھو
محبّو! پاؤ گے جنت میں گھر درود پڑھو
نبی کے صدقے تمہاری مراد ہو حاصل
دعا کے اوّل و آخر اگر درود پڑھو
ہزار درد کو یہ ایک دوا کفایت ہے
جو پیش آئے ذرا بھی خطر درود پڑھو [2]

**صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

---

1... مصنف عبد الرزاق 2/141، حدیث: 850۔

2... نورِایمان، صفحہ: 56-57۔

## د بيان اوريدلو نيتونه

پهٔ **حديثِ پاک** کښې دي:اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نيتونو دے۔ [1]

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پهٔ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي- راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِيّتونه وکړو: مَثَلاً ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❀ پهٔ اَدب به کښينم ❀ ښهٔ پهٔ توجُّه به بيان اورم ❀ څهٔ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د هرې ډولچې(بوقے) پهٔ بدله کښې يوه کجوره

حضرت اسماء بنتِ عُمَيس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا کومه چې صحابيه ده، هغهٔ فرمائي: يو ځل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپلې شهزادګۍ سَيِّده فاطمةُ الزهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا کور ته تشريف راوړلو، پوښتنه يې وکړه: اَيْنَ اِبْنَایَ زما ځامن (يعني حسن او حُسين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہما) چرته دي؟ عرض يې وکړو: بابا جانه! پهٔ کور کښې د خورک د پاره څهٔ نه وو، حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وفرمائيل: که پهٔ کور کښې وي نو ډوډۍ به غواړي او پهٔ کور کښې د خوراک د پاره څهٔ شته نهٔ، ځکه زهٔ دوئي د ځان سره بوځم- غرض؛ ستاسو دواړه نمسي د خپل بابا جان سره فلانکي ځائے ته تلي دي-

د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپلو دواړو نمسو سره بے حده مينه وه، نو د هغوئي سره د ملاقات د پاره يې هم هلته تشريف يوړلو، کوم ځائے چې ورته سَيِّده فاطمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا ښودلے وو- هلته چې ورسيدلو نو اوئې کتل چې حضرت مولٰی علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د

[1] ... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

کوهي نه د اوبو ډکې بوقے راوباسي او پهٔ خوا کښې ورسره دواړه شهزادګان لوبې کوي- خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: اے علي! ګرمي به ډيره شي، د دې نه مخکښې زما ځامن کور ته ولې نه بوځې؟ عرض يې وکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! پهٔ کور کښې د خوراک د پاره څهٔ نه وو (ځکه مې دوئي د ځان سره راوستل)- تاسو تشريف کيږدئ! زهٔ څهٔ کجورې راجمع کووم- محبوبِ ذيشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم تشريف فرما شو-

پهٔ اصل کښې دا د يو ګس کوهے وو، پخوا چې به کوم کوهيان وو، د هغې نه اوبه راويستل اسان کار نه وو، ځکه به خلقو مزدورې ورکوله او اوبه به يې راويستلې- حضرت مولیٰ علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ پهٔ اُجرت باندې د کوهي نه اوبه راويستلې او دا ټاکلے شوې وه چې د يوې بوقے پهٔ راويستو به يوه کجوره ورکولے شي- نو حضرت مولیٰ علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ پهٔ محنت سره د اوبو ډيرې بوقے راويستلې، چې ډيرې کجورې جمع شوې نو هغوئي کجورې پهٔ کپړه کښې رابندې کړې، يو شهزاده خوږ آقا کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ خپلو اوګو باندې کښينولو، بَل شهزاده مولیٰ علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ پهٔ خپلو اوګو باندې کښينولو او کور ته يې تشريف راوړلو- (رياض النضرة)

| | |
|---|---|
| ہیں کائناتِ حُسن کے انوار پانچ تن | خالق کا بےمثال ہیں شاہکار پانچ تن |
| اُن ہی کے دَم سے رونقِ کونین ہے تمام | کونین کے ہیں مالک ومختار پانچ تن |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## غريب پهٔ فائده کښې دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اندازه ولګوئ! خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم امامُ الانبيا دے، د دواړو جهانونو د پاره رحمت دے، د الله پاک محبوب دے، شان يې دا دے چې فرمائي: وَاِنِّيْ قَدْ اُعْطِيْتُ مَفَاتِيْحَ خَزَائِنِ الْاَرْضِ بے شکه د زمکې د

ټولو خزانو کُنجیاني ما ته عطا کړے شوې دي- په یو روایت کښې یې وفرمائیل: اِنَّمَا اَنَا قَاسِمٌ وَاللهُ يُعْطِيْ زهٔ تقسیموم، ورکوي یې الله پاک-

| | |
|---|---|
| ربّ ہے مُعْطِی یہ ہیں قَاسِم | رزق اُس کا ہے کھلاتے یہ ہیں |

بیا د مسلمانانو د څلورم خلیفه، علي المرتضیٰ، شیرِ خُدا رَضِیَ اللهُ عَنْهُ شان مبارک ته وګورئ! ❁ هغوئي ته هُم په دُنیا کښې د جنَّت زیرے ورکړے شوے دے ❁ د هغوئي شهزادګان یعنې امامِ حسن او امامِ حسین رَضِیَ اللهُ عَنْهما د جنَّتي ځلمو سرداران دي ❁ د هغوئي د دَر نه د زمانې جولۍ ډکیږي ❁ هغوئي هُم هٔغه ذیشان دے د چا د پاره چې خوږ آقا، محبوبِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پریوتے نمر واپس راګرځولے وو-

| | |
|---|---|
| آپ کی خاطر نبی نے سورج پلٹا دیا | کیا شان پائی ہے، مولا علی بُوتُراب |

بیا د سَیِّده فاطمةُ الزهراء رَضِیَ اللهُ عَنْها اوچت شان ته هم ګورئ! د نبي بلکې د امامُ الانبیا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شهزادګۍ ده، د حسنینِ کریمینو مور بي بي ده، هٔغه هستي ده د چا د دعا د پاره پورته کړے شوي لاسونه چې خالي نه راځي، چا ته چې الله پاک غیبي رزق عطا کوي، د چا د کور د جرندې تاوهلو د پاره چې الله پاک د اسمان نه فرښتې رالیږي- غرض دا چې پنجتن پاک دي، د اوچتو شانونو والا دي، د اوچتې مرتبې والا دي، که څوک یې مني او که نه مني رښتیا هم دا دي چې نن هم زمانه د پنجتن پاک صدقه خوري، د دوئي په دَر باندې دُنیا پاللے کیږي-

اے د صحابهٔ کرامو او اهلِ بیتو عاشقانو! د دې اوچتو مرتبو والا شان ته وګورئ! مبارک حالت ته یې وګورئ! زهد او د دُنیا بے رغبتۍ ته یې وګورئ! ❁ په کور کښې ورسره د خوراک څښاک د پاره هیڅ نشته ❁ سیده فاطمه رَضِیَ اللهُ عَنْها په کور کښې صبر کوي ❁ مولیٰ علي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ محنت کوي، درانه بوجونه اوچتوي یعنې د کوهي نه د اوبو بُوقې راوباسي

او کجورې ګټې ❁ او د دواړو جهانو تاجدار، هٔغه عاليشانه نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څوک چې د مولیٰ علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د پاره پريوتے نمر هم راګرځوي، نن اشاره نه فرمائي بلکې پهٔ خوا کښې ورسره تشريف فرما کيږي او د مولیٰ علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ محنت ويني-

## غربت هم يو نعمت دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د دې نه معلومه شوه چې پهٔ ظاهره د دنيائي مال نشت والے هم يو نعمت دے، که دا نعمت نه وے نو الله پاک بهٔ خپلې دا د ټولو نه محبوبې هستيانې هيڅکله هم پهٔ داسې حالت باندې نهٔ ساتل-

د اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رساله ده:

**غريب فائدے ميں ہے-** ډيره ښکلې رساله ده، د لوستلو سره تعلق لري- اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ دې کښې حديثِ پاک ذِکر کړے دے، د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې آخري نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي:**غريبانان مسلمانان به د مالداره مسلمانانونه نيمه ورځ مخکښې جنَّت ته داخليږي او هٔغه (نيمه ورځ) به د 500 کالو (برابر) وي-**

د دې حديث په شرح کښې د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: ياد ساتئ چې دا ورستو کيدل به د حساب پهٔ وجه نه وي الله پاک به د ټول عالَم حساب ډير زر واخلي دا به د هٔغه غريبانانو د شان ښودلو د پاره وي چې مالداره د حساب پهٔ نوم باندې ايسار کړے شو او غريبانان د جنَّت طرف ته روان کړے شول-

## د جنَّت او د دوزخ مکالمه

پهٔ يو حديثِ پاک کښې دي: د دوزخ او د جنَّت پهٔ مينځ کښې مُبَاحِثه وشوه (يعنې پهٔ خپل مينځ کښې يـې خبرې وکړې)، دوزخ وه وئيل: "ما ته د ظالمانو او تـکبر کوونکـو

خلقو سره فضیلت راکړے شوے دے (یعنې هُم زهٔ یم، پهٔ کوم کښې چې به ظالمان او تکبر کوونکي خلق اچولے کیږي) جنَّت وه وئیل: پهٔ ما څهٔ وشول چې پهٔ ماته به صرف کمزوري او بے وسه او عاجزه خلق داخلیږي-
لکه چې جنَّت پهٔ دې باندې فخر کوي چې پهٔ ما کښې به کمزوري(مثلا غریبانان)،متقیان،پرهیزګاره،د پاک زړونو والا خلق داخلولے شي-

| | |
|---|---|
| تاج و تخت و حکومت مت دے | کثرتِ مال و دولت مت دے |
| اپنی رِضا کا دے دے مژدہ | یا اللہ! مری جھولی بھر دے |

## اکثر جنتیان به غریبانان وي

په یو حدیث پاک کښې دي:اِطَّلَعۡتُ فِی الۡجَنَّةِ فَرَاَیۡتُ اَکۡثَرَ اَهۡلِهَا الۡفُقَرَاءَ یعنې ما چې کله جنَّت ته وکتل نو اومې لیدل چې پهٔ جنتیانو کښې زیاته شمیره د فقراء (یعنې غریبانانو خلقو) ده- [1]

| | |
|---|---|
| دے حُسنِ اخلاق کی دولت | کر دے عطا اِخلاص کی نعمت |
| مجھ کو خزانہ دے تقویٰ کا | یا اللہ! مری جھولی بھر دے |

یاد ساتئ---!! صرف غریب کیدل د جنَّتي کیدلو ځنبنه نه ده، نهٔ داسې ده چې هر مالداره به مَعَاذَ الله! هُم دوزخ ته ځي- د جنَّت او د دوزخ تقسیم د الله پاک پهٔ رحمت باندې دے، بیا پهٔ اعمالو باندې دے- البته هُغه کَس د چا چې پهٔ دنیا کښې غریبي نصیب شوه او هغهٔ د نیکۍ لاره اختیار کړله، دا ډیر پهٔ فائده کښې دے چې دهٔ ته به د غریبۍ بیل اجر ورکولے شي-

## مال ګټل هم ضروري دي

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! یقیناً چې غریب پهٔ فائده کښې دے خو د دې دا مطلب هیڅکله هم نه دے چې مونږه کار کول پریږدو، بس بنپه پهٔ بله واړوو او کښینو، نهٔ د بال بچ

[1]... مسند احمد،مسند عبد اللہ بن عباس،۱/۵۰۴،حدیث:۲۰۸۶۔

حقونه ادا کوو، نهٔ د مور پلار خدمت کوو، د ضرورت مطابق حلال رزق ګټل جائز دي بلکې پهٔ ډیرو صورتونو کښې خو واجب کیږي هم، ځکه حلاله ګټه ضرور کول پکار دي- د بني اسرائیلو یو عبادت ګزار وو، هغهٔ به دُعا کوله: اَللّٰهُمَّ اَعِنِّیْ عَلٰی دِیْنِیْ بِدُنْیَا وَعَلٰی آخِرَتِیْ بِتَقْوٰی یعنې اے الله پاکه! ما له مال راکړې او زما پهٔ دِین باندې مدد وکړې او تقویٰ راکړې او د اخرت پهٔ معامله کښې مې مدد وکړې-

یعنې که مال وي نو زما دِین به محفوظ وي، شیطان به زړهٔ ته وسوسې نشي راچولے، د غریبۍ او د لوږې تندې د لاسه به زما پهٔ زړهٔ کښې غلط خیالونه نهٔ راځي، ځکه به زما دِین محفوظ وي، لهٰذا اے الله پاکه! ما ته حلال رزق راعطا کړې-

تجھ کو مل جائے گا جو قسمت میں | تیری، رزقِ حلال رکھا ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب!    صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بے روزګارۍ اسباب !

خوږو اسلامي ورڼو!زمونږ په معاشره کښې بے روزګاري زیاتیږي د دې دخاتمې دپاره دا پیژندل ضروري دي چې اخر د بےروزګارۍ اسباب څه دي؟راځئ زه تاسو ته دبے روزګارۍ څه اسباب وائیم :

## (1)د محنت مزدورۍ نه ویریدل

مونږه د حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ واقعه واوریدله، د هغوئي سره پهٔ کور کښې د خوراک سامان موجود نه وو، بیا هغوئي څهٔ وکړل--؟ پاڅیدلو او د کور نه بهر لاړلو، د یو کَس سره یې اُجرت وټاکلو او د کوهي نه یې د اوبو بُوقے راویستلې او کجورې یې وګټلې او د کور والؤ د پاره یې د خوراک بندوبست وکړو-

سُبْحٰنَ اللّٰه! اوس لږ غور وکړئ! څومره اوچته مرتبه ده، د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ځوم دے، د حضرت فاطمه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا خاوند دے، هغه هستي ده د چا لاس مبارک چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ونيولو او اوئې فرمائيل: مَنْ كُنْتُ مَوْلَاهُ فَهٰذَا عَلِيٌّ مَوْلَاهُ د چا چې زۀ مولیٰ (يعنې محبوب او مددګار) يم، بس دا علي هم د هغۀ مولیٰ (يعنې محبوب او مددګار) دے-

بیاں کس منہ سے ہو اس مَجْمَعُ الْبَحْرَيْن کا رتبہ
جو مرکز ہے شریعت کا طریقت کا ہے سر چشمہ
مسلمانو! رسول اللہ کی اُلفت اگر چاہو
کرو اس کی غلامی جس کا ہر مومن ہوا بندہ

اوس وګورئ! شان يې څومره اوچت دے او د حلال رزق ګټلو د پاره څۀ کار کوي؟ د کوهي نه اوبه راوباسي او رزق ګټي-

هسې که ربنتيا وه وايم نو په دُنيا کښې بے روزګاري زياتيږي خو دا هم يو حقيقت دے چې په خلقو کښې د محنت جذبه کمه شوې ده- دلته دا يو عجيبه غوندې سوچ دے چې خلق پيشه د خپل حيثيت سره ترې ❀ هسې بے روزګاره وي خو محنت مزدوري نه کوي چې خلق به څۀ وائي ❀ په کور کښې لوږې تيروي خو په سړک باندې د ميوې ګاډۍ نشي لګولے، ګني خلق به څۀ وائي ❀ په کور کښې غريبي راغلې ده خو وړوکے کار نه کوي، خلق به څۀ وائي- مونږ له کار هم د اوچتې مرتبې والا پکار وي، بس دا سوچ جوړ شوے دے چې څۀ اعلیٰ قِسم نوکري وي، لاکهه دوه لاکهه تنخوا يې وي، مخکښې وروستو نوکران وي، ښه شان شوکت وي، که داسې د اعلیٰ قِسم نوکري ميلاويږي نو بيا يې کوي، ګني نو بس په خپله غريبۍ باندې ژړا کوي-

# حلال رزق ګټل هم عبادت دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! ياد ساتئ چې حلال رزق ګټل څۀ عامه خبره نه ده، دا هم يو عبادت دے- آؤ جي! د الله پاک آخري نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اِنَّ اللهَ تَعَالٰى يُحِبُّ الْعَبْدَ الْمُؤْمِنَ الْمُحْتَرِفَ بے شکه الله پاک د معاش پۀ طلب کښې تکليف برداشت کوونکے مؤمِن خوښوي- [(1)] د ټولو نه د افضل رسول، رسولِ مقبول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خدمت کښې پوښتنه وشوه: د ټولو نه پاک عمل څۀ دے؟ اوئې فرمائيل: د انسان د خپل لاس ګټه خوړل- [(2)]

# دا هم د الله پاک پۀ لار کښې دے

يو ځل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف فرما وو، صحابۀ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم هم حاضر وو- پۀ دې کښې يو ښکلے او طاقتور ځلمے پۀ هغه ځائے باندې تيز تيز تيريدلو، هغۀ ته چې يـې وکتل نو صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم وه وئيل: کاش چې دۀ خپله ځواني د الله پاک پۀ لار کښې لګولے وے- رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: که چرې دا د خپلو نابالغه بچو د رزق ګټلودپاره راوتلے وي فَهُوَفِيْ سَبِيْلِ اللهِ نودا د الله پاک پۀ لار کښې دے- که دا د خپل بوډئ مور پلار د رزق په لټون کې کښې وي ، فَهُوَفِيْ سَبِيْلِ اللهِ نو بيا هم دا د الله پاک پۀ لار کښې دے- که چرې خپل ځان د سوال نه دبچ کولو دپاره راوتےوي فَهُوَفِيْ سَبِيْلِ اللهِ نو بيا هم دا د الله پاک پۀ لار کښې دے-

معلومه شوه چې د ضرورت مطابق حلال رزق ګټل هم عبادت دے-

اوس لږ وه وايئ چې عبادت کول د شرم خبره ده يا د سعادت خبره ده، فرض کړئ چې

---

1... جامع صغير، صفحه:116، حديث:1873-

2... شعب الايمان، باب التوکل والتسليم، جلد:2، صفحه:88، حديث:1238-

مونږ چرته پهٔ سفر باندې روان يو، پهٔ لاره کښې د نـمونځ وخت شو، مونږه جومات ته نشو رسيدلے، نـمونځ قضا نشي، ځکه هم پهٔ لار کښې ودريږو او هم د سړک پهٔ غاړه پهٔ نـمونځ ودريږو نو آيا دا به د شرم خبره وي که د سعادت خبره به وي؟ يقيناً چې دا ښه خبره ده بلکې چې داسې موقع وي نو بعضې وخت پهٔ زړهٔ کښې د ځان خوښوئ خيالونه هم راځي- معلومه شوه چې عبادت پهٔ هر ځائے کښې وکړے شي، د شرم خبره نهٔ بلکې د سعادت خبره وي- ځکه د خپل بال بچ د ساتلو د پاره که د سړک پهٔ غاړه باندې ګاډۍ لګول وي، بوج اوچتول وي، پيزار ګنډل وي، محنت مزدوري کول وي نو پهٔ دې کښې د شرم څهٔ خبره ده، حلال رزق ګټل که پهٔ ښه نيت باندې وي نو عبادت دے او پهٔ عبادت باندې شرم نهٔ بلکې شکر کولے شي-

## د ذِلَّت پهٔ ځائے کښې ودريدل

حضرت ابراهيم بن ادهم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: ما ته دا خبره رارسيدلې ده چې کوم بنده د حلال رزق لټولو د پاره د ذِلَّت ځائے کښې ولاړ وي، د هغهٔ د پاره جنَّت واجب کيږي-

## د انبيائے کرامو علَيهِمُ السَّلام پيشې

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د حلال رزق د پاره پيشه اختيارول څهٔ عامه خبره نه ده، انبيائے کرامو علَيهِمُ السَّلام خوک چې د ټولو نه اوچتې مرتبې والا دي، هغوئي هم مختلفې پيشې اختيار کړې دي- د بعضې انبيائے کرامو علَيهِمُ السَّلام د کسبونو [يعني د پيشو] ذِکر خو پهٔ قرآنِ کريم کښې هم راغلے دے- د الله پاک د نبي حضرت داؤد عَلَيۡهِ السَّلَام پهٔ باره کښې ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| وَعَلَّمْنٰهُ صَنْعَةَ لَبُوْسٍ لَّكُمْ (پاره:17، سورۀ انبياء:80) | [مفهوم] ترجمۀ كنزُ العِرفان: نو مونږه ستاسو د فائدے د پاره هغۀ ته د خاص لباس صنعت [ كسب ] ورزده كړل- |

يعني  حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام به زغري جوړولې،الله هغوي ته د دي علم ورکړو- پۀ تفسير صراط الجنان كښې دي: انبيائے كرامو عليهمُ السَّلام به مختلفې پيشې اختيارولې او دخپل لاس د ګټې نه به ئې خوراک څکاک كولو، ❀ حضرت ادريس عَلَيْهِ السَّلَام به جامې ګنډلې ❀ حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام به ترکاڼي کوله ❀ حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام به د جامو ❀ حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام به کر کيله [يعني زميداري] كوله ❀ حضرت موسیٰ او حضرت شعيب عَلَيْهِمَا السَّلَام به چيلۍ څرولې ❀ حضرت صالح عَلَيْهِ السَّلَام به د څادرو جوړولو كار كولو ❀ او زمونږه آقا، د دواړو جهانو داتا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اګر چې څۀ خاص پيشه نه وه اختيار كړې خو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چيلۍ څَرولې دي، تجارت يـې كړے دے او څۀ نور كارونه يـې هم كړي دي لهذايو جائز كار او پيشې  خرابې  نه دي ګڼل پكـار-

## د پيشې پيغور

دلته چې پۀ كومو بعضو پيشو اختيارولو كښې شرم او ويره محسوسولے شي، د هغې سبب دا هم دے چې خلق پيغورونه وركوي، ❀ څوک چې جامې جوړوي، هغۀ ته جولا وئيلے شي او شرمولے شي ❀ څوک چې پيزارونه ګنډي، دا كمتره ګڼي، د طنز پۀ انداز كښې ورته چميار وئيلے شي ❀ څوک چې ويښته جوړوي، هغۀ ته د طنز پۀ انداز كښې نائي وائي او شرموي يـې، دا ډيره غلطه خبره ده، هُم ډيره غلطه خبره ده- پيغورونه وركول او زړۀ ازارول دي او زړۀ ازارول حرام او دوزخ ته بوتلونكے كار دے- الله پاک پۀ قرآنِ كريم كښې فرمائي:

وَلَا تَلْمِزُوْٓا اَنْفُسَكُمْ (پاره:26، سورۀ حجرات:11) [مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: او خپل مينځ كښې چا له پيغور مۀ وركوئ-

يعنې د ژبې يا اشارې پۀ ذريعه پۀ يو بل باندې عيب لګول څکه چې مؤمِنان د يو جسم پۀ شان دي چې كله پۀ يو بَل مؤمِن باندې عيب لګولے شي نو لكه چې پۀ خپل ځان باندې عيب لګولے كيږي- (روح المعانی، الحجرات، تحت الآية: ١١، ١٣ / ٤٢٤)

## ستا پيشه مباركه ده

د حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُما نه روايت دے: يو ځل يو ګَس پۀ بارګاهِ رسالت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم كښې حاضر شو، عرض يې وكړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زما د پيشې پۀ باره كښې تاسو څۀ ارشاد فرمايئ؟ اوئې فرمائيل: څۀ كار كوې؟ عرض يې وكړو: زۀ كپړې جوړووم (پۀ پوښتو كښې چې چا ته جولا وئيلے شي)- خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: ستا پيشه د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام والا ده، د ټولو نه مخكښې چې چا كپړه جوړه كړه هغۀ حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام دے، بے شكه ستا پيشه هغه ده، د كومې ضرورت چې د ژوندو سره سره مړو ته هم وي (چې هغوئي ته كفن اچولے شي)- څوک چې تا ته (ستا د پيشې پۀ وجه پيغور دركوي او) تكليف در رسوي، هغۀ لكه چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام له پيغور وركوي، مۀ ويريږه! ستا د پاره زيرے دے چې ستا پيشه مباركه ده، د قيامت پۀ ورځ به حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام ستا قائِد وي-

الله پاک دې زمونږه ښه سوچ نصيب كړي، كوم خوش قِسمته چې د ځان او د خپل بال بچ د خيټې ساتلو د پاره حلاله پيشه اختيار كړي، هغۀ ښه انسان دے، نيک كار كوي، مونږ له پكار دي چې هغۀ له ډاډګيرنه وركړو، كه كيدے شي نو د هغۀ مدد وكړو، د هغۀ سره لاس امداد وكړو- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دې پۀ بركت به د معاشرې اصلاح كيږي او بے روزګاري به ختمه شي-

## (2): پۀ کم امدن باندې نۀ راضي کيدل

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دلته چې کومه بے روزګاري زياتيږي، د دې يوه وجه دا هم ده چې خلق پۀ کم امدن باندې نه راضي کيږي- داسې خومره ځلمي دي کوم چې څۀ کار روزګار نه کوي، وزګار ګرځي راګرځي او ورسره پريشانه هم وي، که د دوئي د غم قيصه واورې نو معلومه به شي چې: ❀ فلانکي ځائے کښې کار ميلاويدو خو تنخوا يې کمه وه ❀ بيا مې پۀ کارخانه کښې کوشش وکړو، هغوئي هم کمه تنخوا راکوله ❀ پۀ فلانکي ځائے کښې مې C.V جمع کړه، هغوئي هم ښې تنخوا راکولو ته تيار نه شول- يعنې د دوئي دا سوچ وي چې پۀ وړومبي ځل راته هم نوکري ميلاؤ شي، روزګار ميلاؤ شي خو داسې ميلاؤ شي چې تنخوا يې پۀ زرګونو کښې نۀ بلکې پۀ لکونو کښې وي-

په بنيادي طور دا سوچ هم صحيح نه دے- ترقي هميشه هم د زيرو نه شروع کيږي بلکې د عِلمِ نفسيات ماهران  خو وائي چې **د کاميابۍ سفر د زيرو نه نۀ بلکې د مائنس نه شروع کيږي**، پۀ يو وړوکي شان مثال د خبرې پوهه کولو کوشش کووم- فرض کړئ چې يوه کنده ده، تاسو د ټوپ وهلو سره د هغې نه دانګل غواړئ، که تاسو د هغې پۀ غاړه باندې ودريږئ او دانګل غواړئ نو اغوښتے ترينه نشئ، بيا لږ شا ته راشئ! بيا منډه کړئ او ټوپ کړئ! نو بيا به تاسو د کندې نه واوړئ- معلومه شوه چې د کاميابۍ د پاره سفر د زيرو نه نۀ بلکې د مائنس نه شروع کړې نو کاميابي به دې نصيب کيږي- که تنخوا کمه ميلاويږي، امدن کم دے نو پۀ دې کښې د پريشانۍ څۀ خبره ده؟ نن تنخوا کمه ده، نن امدن کم دے، چې کار کوئ، محنت کوئ نو الله پاک به پکښې برکت اچوي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! امدن به زيات شي، تنخوا به هم زياته شي-

## د ښکلې بنګلې اخستو خواهش

يو غريب ګس وو، هغۀ پۀ يو ځائے تيريدلو، هغۀ يوه ډيره ښکلې بنګله وليدله، د محل پۀ شان ښکلے او عالي شان کور يـې چې وليدلو نو د هغۀ پۀ زړۀ کښې لالچ راغلو، د هغۀ پۀ زړۀ کښې شوق راپيدا شو چې کاش! زۀ هم پۀ يو داسې کور جوړولو کښې کامياب شم- غريب ګس درخواست وکړو چې د دې بنګلې د مالِک سره ميلاؤيدل غواړم- هغۀ د بنګلې مالِک ته پيش کړے شو- غريب ګس د بنګلې د مالِک نه پوښتنه وکړه: جناب! زۀ هم داسې ښکلے کور جوړول غواړم، دې د پاره به ما ته څۀ کول پکاروي؟ د بنګلې مالِک ډير پۀ سادګۍ سره وه وئيل: د ټافيانو يو ډبے واخله او پۀ فټ پاټ باندې کښينه او خرڅوه يـې! غريب ګس چې دا جواب واوريدو نو ډير حيران شو چې زۀ خو د دۀ نه د ښکلې بنګلې د اخستو طريقه يادووم او دا ما ته پۀ فټ پاټ د کښيناستو مشوره راکوي- هغۀ پۀ حيرانتيا سره وه وئيل: جناب! زۀ ستاسو پۀ مطلب پوهه نۀ شوم---؟ د بنګلې مالک وه وئيل: ساده شان خبره ده، تۀ زما د کور پۀ شان کور اخستل غواړې، زۀ هم پۀ فټ پاټ باندې ناست ووم او د ټافيانو خرڅولو نه مې شروع کړې وه، تۀ هم د هغه ځائے نه شروع وکړه! الله پاک ما ته د محنت خوارۀ راکړي دي، تا ته به هم ضرور عطا کړي-

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا حقيقت دے--!! شروع د لږې شان تنخوا نه، هم د لږ شان امدن نه کيږي، بيا د وخت سره سره الله پاک پۀ دې کښې برکت هم عطا کوي‌لهذا روزګار ميلاؤيږي، که دکم امدن والا هم وي نو هغۀ قبول کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! بهتري به وي-

## کم امدن والا د آقا دوست دے

څوک چې پۀ کم امدن باندې ويريږي، د احساسِ کمترۍ ښکار کيږي او پۀ زړۀ کښې خِيرے راولي، د هغوئي د پاره يوه ايمان تازه کوونکې خبره عرض کړم؛ کوم بنده چې پۀ

کم امدن باندې صبر کوي، هغۀ د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږ دوست دے۔ پۀ ترمذي شريف کښې دي، حضرت ابو اُمامه باهِلي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اِنَّ اَغْبَطَ اَوْلِيَائِیْ عِنْدِی بے شکه زما پۀ نزد زما پۀ دوستانو کښې زيات د رشک قابل دوست هغۀ دے (پۀ چا کښې چې دا صفتونه وي): **(1):** لَمُؤْمِنٌ خوک چې مؤمن وي **(2):** خَفِيفُ الْحَاذِ کم سامان والا وي **(3):** ذُوحَظٍّ مِنَ الصَّلَاةِ پۀ کثرت سره نـمونځ کوونکے وي **(4):** اَحْسَنَ عِبَادَةَ رَبِّهٖ د خپل رَبّ پۀ ښه انداز کښې عبادت کوونکے وي **(5):** وَاَطَاعَهُ فِي السِّرِّ پۀ تنهايئ کښې د الله پاک فرمانبرداري کوونکے وي **(6):** وَكَانَ غَامِضًا فِي النَّاسِ لَا يُشَارُ اِلَيْهِ بِالْاَصَابِعِ پۀ خلقو کښې پټ وي، د هغۀ طرف ته پۀ ګوتو اشارې نه کولے کيږي او **(7):** وَكَانَ رِزْقُهٗ كَفَافًا فَصَبَرَ عَلٰى ذٰلِكَ **د هغۀ رزق (يعني امدن) بقدرِ کفايت وي او هغۀ پۀ هغې باندې صبر کوي۔** [1]

معلومه شوه چې د چا امدن کم وي، خرچې زياتې وي، ساز او سامان کم وي، د کم امدن باوجود صبر کوونکے وي، د الله پاک شُکر ادا کوونکے وي، د الله پاک پۀ تقسيم باندې راضي کيدونکے وي، پۀ کثرت سره نـمونځونه کوونکے وي، هغۀ د محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږ دوست دے۔ سُبْحٰنَ الله! څومره نا اشنا فضيلت دے! ❀ بعضې کارونه وي، پۀ کومو چې د جنّت زيرې ورکولے شي ❀ بعضې هغه دي، پۀ کومو کښې چې د دوزخ نه د ازادئ زيرې اوورولے شي ❀ بعضې هغه کارونه دي، د کومو پۀ باره کښې چې فرمائيلے شي چې کوم بنده دا کارونه وکړي، هغۀ به پۀ پل صراط پۀ سلامتيا سره تير شي ❀ پۀ ځينو باندې د قبر د عذاب نه د خلاصيدو زيرے وي خو قربان شم! د هغه کس پۀ خوش قِسمتئ باندې پۀ چا کښې چې پۀ حديث شريف کښې بيان کړے شوي 7 صفتونه وي، دا داسې اوچته مرتبه ده چې

---

[1]... ترمذی، کتاب الزہد، باب ماجاء فی الکفاف والصبر علیہ، صفحہ:561، حدیث:2347۔

هغۀ ته مالکِ جنَّت، قاسِم نعمت، محبوبِ رَبُّ العزّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپل د رشک قابل دوست فرمائيلے دے۔

| | |
|---|---|
| اللہ کا محبوب بنے جو تمھیں چاہے | اس کا تو بیاں ہی نہیں کچھ تم جسے چاہو [1] |

## څوک چې پۀ لږ رزق باندې راضي شي---!!

د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ روايت کوي چې د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنۡ رَضِیَ مِنَ اللّٰہِ بِالۡیَسِیرِ مِنَ الرِّزۡقِ رَضِیَ اللّٰہُ مِنۡہُ بِالۡقَلِیلِ مِنَ الۡعَمَلِ يعنې څوک چې د الله پاک پۀ ورکړے شوي لږ رزق باندې راضي شي، الله پاک به د هغۀ پۀ لږ عمل باندې راضي شي۔ [2]

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: که تۀ پۀ معمولي رزق موندلو ډير شُکر ادا کړې نو الله پاک به ستا د معمولي اعمالو ډير قدر وکړي۔ [3]

| | |
|---|---|
| تاج و تخت و حکومت مت دے | کثرتِ مال و دولت مت دے |
| اپنی رِضا کا دیدے مژدہ | یاالله! مری جھولی بھر دے [4] |

## پۀ رضا باندې د راضي اوسيدونکو د پاره زيرے

د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: طُوۡبٰی لِمَنۡ هُدِیَ لِلۡاِسۡلَامِ وَکَانَ عَيۡشُهٗ کَفَافًا، وَقَنَعَ يعنې زيرے دے د هغه چا د پاره چا ته چې د اِسلام هدايت

---

[1] ... ذوقِ نعت، صفحہ: 206 ملتقطاً۔
[2] ... الآداب للبیهقی، باب فی فضل الصبر وانتظار الفرج، صفحہ: 307، حدیث: 934۔
[3] ... مرآۃ المناجیح، جلد: 7، صفحہ: 84۔
[4] ... وسائل بخشش، صفحہ: 123۔

ورکړے شو او د هغۀ امدن ګزاره حال وي او هغۀ پۀ هغې باندې قناعت وکړي يعني د صبر او شکر سره راضي اوسي- (1)

## پۀ لږ رزق باندې د راضي کيدونکو مقام

پۀ يو حديثِ پاک کښې دي: چې کله د قيامت ورځ وي نو الله پاک به زما د اُمَّت يوې ډلې ته وزرې عطا کړي، د کومو پۀ ذريعه چې به هغۀ د خپلو قبرونو نه والوځي او جنَّت ته به لاړ شي او هلته چې څنګه غواړي نو خوندونه به اخلي- فرښتې به د هغوئي نه پوښتنه کوي: آيا ستاسو سره حساب شوے دے؟ هغوئي به وائي: زمونږ سره حساب نه دے شوے- فرښتې به پوښتنه کوي: آيا تاسو پۀ پل صراط راتير شوي يئ؟ هغوئي به جواب ورکوي: مونږه پل صراط نه دے ليدلے- بيا به فرښتې پوښتنه کوي: آيا تاسو دوزخ ليدلے دے؟ هغوئي به وائي: مونږه هيڅ څيز نه دے ليدلے- بيا به فرښتې هغوئي ته وائي: تاسو د چا اُمَّتيان يئ؟ هغه خوش قِسمته جنَّتيان به وائي: مونږه د امام الانبياء حضرت مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّتيان يو- فرښتې به وائي: مونږه تاسو له د الله پاک قَسم درکوو، وه وايئ چې پۀ دُنيا کښې ستاسو څۀ اعمال وو؟ هغوئي به جواب ورکوي: زمونږه دوه عادتونه وو، د کومو پۀ وجه چې مونږه د الله پاک پۀ فضل او کرم سره دې مرتبې ته راورسيدو: (1): مونږه به پۀ تنهايۍ کښې هم د الله پاک د نافرمانۍ کولو نه حيا کوله او (2): **مونږه به د الله پاک پۀ عطا کړے شوي لږ رزق باندې راضي کيدلو-** (2)

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** خوک چې د الله پاک پۀ ورکړے شوي لږ رزق باندې راضي شي، الله پاک به د هغۀ پۀ لږ عمل باندې راضي شي، خوک چې د رَبّ پۀ لږ رزق باندې راضي اوسي هغوئي به د خپلو قبرونو نه پۀ الوتو جنَّت ته ځي، نۀ به هغوئي د

---

1 ... ترمذی، کتاب الزہد، باب ماجاء فی الکفاف والصبر علیہ، صفحہ:561، حدیث:2349 مفہوماً۔

2 ... قوت القلوب، شرح مقام التوکل ووصف احوال المتوکلین، جلد:2، صفحہ:65۔

حشر میدان ته ځي، نۀ به اعمال نامه د هغوئي پۀ لاسونو کښې ورکولے شي، نۀ به ورسره د حساب کتاب معامله کيږي، نۀ به ورته پۀ پل صراط باندې تيريدل وي کوم چې د وينښته نه زيات نرے او د تورې نه زيات تيرۀ دے- اندازه ولګوئ! هغۀ به څومره خوش قِسمته وي، څوک چې د دې مرحلو نه بچ شي او د خپلو قبرونو نه د الوتو سره نيغ جنَّت ته لاړ شي- کاش چې مونږه هم د الله پاک پۀ ورکړے شوي لږ رزق باندې راضي شو-

تاج و تخت و حکومت مت دے
اپنی رِضا کا دیدے مژدہ

کثرتِ مال و دولت مت دے
یااللہ! مری جھولی بھر دے[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!   صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (3): سستي او ناراستي

خورو او محترمو اِسلامي ورونړو! نن سبا چې پۀ معاشره کښې کومه بے روزګاري زياتيږي، د دې يوه غټه وجه کَسَل مندي يعني سستي هم ده- ډير زيات ځوانان داسې دي د کومو ذِهن چې وي چې مونږه يوه پانړه هُم نه راشوکوو، بس داسې پۀ ناسته پۀ ملاسته راته مال راځي، مونږه بس پۀ مزو د عيش سره ژوند تيروو-

داسې نه کيږي- دا دُنيا د محنت کوونکو ده- څوک چې محنت کوي، د هغې خواږه ميلاويږي، څوک چې سستي کوي، فارغ اوسي، د محنت نه ډډه کوي، د هغۀ پۀ برخه کښې صرف پښيماني راځي-

## د دُنيا او د اخرت تقسيم

حضرت علّامه قشيري رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه پۀ **رساله قشيريه** کښې ليکي: الله پاک د دُنيا تقسيم پۀ محنت باندې او د اخرت تقسيم پۀ تقوىٰ باندې فرمائيلې دے-

1... وسائل بخشش، صفحہ:123۔

يعني کوم بنده چې پۀ دُنيا کښې کاميابي غواړي، هغۀ له پکار دي چې ښه ډير محنت وکړي او څوک چې پۀ اخرت کښې کاميابي غواړي، هغۀ دې تقوىٰ اختيار کړي، داسې به يې پۀ دُنيا او پۀ اخرت کښې کاميابي نصيب شي۔

## د کجورې د تنې د خوزولو حکم

پۀ قرآنِ کريم کښې د حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام د مور بي بي حضرت بي بي مريم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا يوه واقعه ذِکر شوې ده، چې کله د حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام د ولادت وخت رانزدې شو نو حضرت مريم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا يواځې وه، هغې ته د څۀ خوراک ضرورت وو، هُم د هغې پۀ خوا کښې د کجورې يوه وچه تنه وه، پۀ هغې کښې پاڼې هم نۀ وې، خالي تنه باقي وه، حضرت مريم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا ته حکم وشو:

وَ هُزِّيْۤ اِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُسٰقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا ﴿۲۵﴾

(پاره:16، مريم:25)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او د کجورې تنه ونيسه او ځان طرف ته يې وخوزوه، هغه به پۀ تا باندې ښې او تازه کجورې راغورځوي۔

صحابئ رسول حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِيَ اللهُ عَنْهُما فرمائي: هُغه تنه بالکل وَچه وه چې کله حضرت مريم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا هغه وخوزوله نو هغې چې تنې ته بره وکتل نو هغې ځانګې کړې وې، بيا هغې ګلونه وکړل، ګلونه پۀ کچه کجورو کښې بدل شول، پۀ هغې باندې رنګ راغلو، چوارې جوړې شوې، بيا پخې شوې او تازه رس دارې کجورې جوړې شوې او د حضرت مريم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا مخې ته راوغورځيدلې، پۀ دې کښې به يوه هم نۀ چاودله۔ دا هر څۀ بالکل د سترګو پۀ رَپ کښې وشول۔ (1)

1... تفسيرِ قرطبّي، پاره:16، مريم، زيرِآيت:25، جز:11، جلد:6، صفحه:17۔

اوس لږ دلته غور وکړئ! دا د الله پاک څنګه قدرت دے چې تنه بالکل وچه کړسه ولاړه وه، الله پاک په لږ سعت کښې هغه شنه هم کړه، په هغې باندې يـې ميوه هم ونيوله، د سترګو په رپ کښې ميوه پخه هم شوه! لره د سوچ خبره ده، چې الله پاک داسې د قدرتونو والا دے نو حضرت مريم رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡها ته دا حکم ولې وکړے شو:

| | |
|---|---|
| وَهُزِّيْٓ اِلَيْكِ (پاره:16، مريم:25) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او د کجورې تنه ونيسه او خان طرف ته يـې وخوزوه۔ |

د هغې د خوزولو نه خو بغير هم دا هر څۀ کيدے شو---؟ حضرت مولٰى علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُ د دې راز بيانوي:

| | |
|---|---|
| اَلَمْ تَرَاَنَّ اللهَ قَالَ لِمَرْيَمَ | وَهُزِّیْ اِلَیْكِ الْجِذْعَ تُسَاقِطِ الرُّطَبُ |
| وَلَوْ شَاءَ مَالَ الْجِذْعُ مِنْ غَيْرِ هَزِّهَا | اِلَيْهَا وَلٰكِنِ الْاُمُوْرُ لَهَا سَبَبٌ |
| تَوَكَّلْ عَلَى الرَّحْمٰنِ فِيْ كُلِّ حَاجَةٍ | وَلَا تَتْرُكَنَّ الْجُهْدَ فِيْ كَثْرَةِ التَّعَبِ |

ترجمه: يعنې آيا تاسو اونه کتل څۀ چې الله پاک حضرت مريم رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡها ته وفرمائيل چې د کجورې تنه ونيسه او خپل طرف ته يـې وخوزوه په تا باندې به تازه کجورې راوغورځيږي حالانکې که هغه پاک پروردګار غوښتلے نو د هغې د خوزولو نه بغير به تنے هم پخپله د هغې طرف ته راښکته شوې وه (خو داسې اونه شول دا ځکه چې دُنيا عالَمِ اسباب ده او دلته) د هر کار څۀ نا څۀ سبب مقرر دے ځکه تاسو په هر حاجت کښې هم په الله پاک باندې باور کوئ او د ډير سترې والي باوجود کوشش مۀ پريږدئ۔

سُبۡحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! معلومه شوه چې په محنت کښې عظمت دے۔ مونږ له پکار دي چې حلاله روزي وګټو، په ښه نيت سره يـې وګټو او دې د پاره محنت هم وکړو۔

## پۀ محنت کولو کښې بهتري ده

د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ خلافت کښې ډېر زيات مالِ غنيمت راتللو او حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ به پۀ خلقو باندې مال هم تقسيمولو، بيا امدن کيدلو، څکه بعضې خلقو محنت مزدوري پريښودله، پۀ دې باندې حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خطبه ورکړله او اوئې فرمائيل: اَیُّهَا النَّاسُ اَصْلِحُوا مَعَايِشَكُمْ فَاِنَّ فِيهَا صَلَاحًا لَكُمْ وَصِلَةً لِغَيْرِكُمْ يعنې اے خلقو! د کار روزګار طرف ته پام وکړئ چې پۀ دې کښې ستاسو د پاره بهتري او ستاسو د طرف نه د نورو د پاره صِله رحمي ده (يعنې چې مال ګټې نو بشځې او د بچو حقونه به پوره کوئ او د هغوئي سره به صِله رحمي کوئ)۔
الله پاک دې مونږ ته توفيق راعطا کړي، د بے روزګارۍ نه دې مونږه بچ کړي، حلال رزق دې راته بقدرِ کفايت رانصيب کړي۔ اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

## د رزق د تنګۍ يو اهم سبب !

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! روزګار نه ميلاويدل،په رزق کښې تنګي راتلل،کله کله زمونږه ګله وي چې ګټم ډېري خوبرکت پکښې نه وي ،ددې مسائلو يو باطني سسب هُم شته او هغه دے :په زړه کښې د فقر ويره -چې کله دا ويره زمونږ په زړۀ کښې کښيني چې که چرې زۀ دا پيسے په فلانکي کارمثلاجماعت،مدرسه وغيره کښې ورکړم نو زماسره به څه پاتي شي،دا ويره مونږه د صدقه او خيرات نه منع کوي،چې کله بنده د صدقے او خيرات نه منع شي نو دهغۀ په رزق کښې تنګي راتلل شروع شي-يوه صحابيه ده:حضرت اسما رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا يو ځل هغه په بارګاه رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې حاضره شوه او عرض يې وکړو:يارسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما خاوند چې څه لګه شان ګټه کوي بس

هُم هغه وي آیا زۀ د هغې نه هُم خرچ کوم؟محبوب ذیشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل :د الله په لار کښې لګول کوه !مال مه ایساروه ګني په تاسو به رزق تنګ کړے شي۔

علامه عیني رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ددې فرمان معني بیانوي او لیکي :مطلب دادے چي د غریبي د ویره نه صدقه ورکول مه بندوه!ګني ستاسو رزق به بند کړے شي او روزګار به مو ختم شي(عمده القاري)ددې نه معلومه شوه چي د صدقه کولو سره رزق زیاتیږي ،په هغې کښې برکت راځي او صدقه بندلوسره پۀ رزق کي تنګي راځي او روزګار میلاویدوکښې رکاوټونه(خنډان)پیدا کیږي۔

دي وجه نه مونږ له پکاردي چي که مالداریُوکه غریبانان، امدني زیاته وي که کمه پۀ هرحال کښې چي څومره وس وي،څومره طاقت وي،د هغې مطابق څه نه څه د الله په لار کښې ضرورخرچ کوو،ددې په برکت سره ان شأالله الکریم !غربت به ختمیږي ،رزق کښې به اضافه کیږي برکت به هُم میلاویږي او که الله وغوښتل نو په اخرت کښې به په ډیرو ثواب هُم نصیب کیږي۔

## دټیلي ټهون ترغیب

د الله پاک په لاره کښې د خرچ کولو بهترینه ذریعه د دعوت اسلامي دیني کارونو دپاره مالي امداد کول هم دي۔الحمدلله!دعاشقان رسول دیني تحریک دعوت اسلامي په ټوله دنیاکښې ددین اسلام د خدمت کوشش کوي ،تراوسه پورې یې په سلګونو جماعتونه جوړ کړي دي،دماشومانوجینکو او هلکانو دپاره جُدا جُدا د قرآن د تعلیم ورکول دپاره اوسه پورې په ټوله دنیاکښې د15زره نه زیاتي مدرسه المدینه قائم شوي دي،په کومو کښې چي د4لاکهه نه زیات ماشومان او ماشوماني مفت تعلیم حاصلوي،تقریبا1500جامعات المدینه جوړي کړے شوي دي په کومو کښې چي 1لاکه،23زره طلبه وطالبات مفت

علم دين حاصلوي،دشرعي رهنمائي دپاره تقريبا21دارالافتاء اهل سنت قائم شوي دي،دعلمي تحقيقي شعبي المدينه العلميه د طرف نه په مختلفو موضوعاتو باندي په 1784كتابونه او رسالو باندي كار شوي دے،په سيټلائټ باندي اردو،انګلش اور بنګله 3ژبو كښي مدني چينل چليږي -

د دعوت اسلامي د ټولو شعبه جاتو د اخراجاتو پوره كولودپاره اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! په3نومبر باندي كيدووالادے:ټيلي تهون،د دي يو يونټ 10زره پاكستانى روپےدے،تاسو هُم د دين په دي كار كښي خپله حصه شامل كړئ،د ټيلي تهون په ذريعه خپل عطيات دعوت اسلامي ته وركړئ،ستاسو چنده به هريوجائز ديني،اصلاحي،فلاحي،روحاني، او دخير په كارونو كښي خرچ كولے شي-

دعوت اسلامی کی قیّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم | اس پہ فدا ہو بچہ بچہ یااللہ! مری جھولی بھر دے

## د حرامې ګټې نه ځان ساتئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! يقيناً چې په دُنيا كښې غربت ډير زيات دے، ګراني هم ډيره زياته ده، خلق يقيناً هم په سخته كښې دي خو د دې دا مطلب هيڅكله هم نه دے چې مونږه د حلالو او د حرامو پروا كولو بغير مال ګټل شروع كړو، رزق ګټل پكار دي خو په حرامه ذريعه باندې نۀ--!! په حلاله ذريعه باندې- سود هم حرام دے، وركول هم حرام دي ❀ رشوت اخستل هم حرام دے، وركول يـې هم حرام دي ❀ په دروغو وئيلو باندې سودا خرڅول هم ګناه ده ❀ په ناپ تول كښې كمے كول هم ګناه ده ❀ ملاوټ كول او دوكه وركول هم ګناه ده ❀ داسې برناحقه سوال كول، سوال كول خپله پيشه جوړول هم ناجائزه او حرامه او دوزخ ته بوتلونكے كار دے- د دې نه علاوه هم د مال

ګټلو ډیرې زیاتې حرامې ذریعې دي- مونږ ته د دې ټولو نه بچ کیدل پکار دي- صرف او صرف حلال ګټل او هُم حلال خوړل پکار دي-

## دوزخ د هغهٔ زیات لائق دے

پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: کومه غوښه چې پهٔ حرامه باندې وپالل شوه هغهٔ به جنَّت ته نهٔ داخلیږي، دوزخ د هغهٔ زیات حق دار دے ❁ پهٔ یو روایت کښې دي: چا چې د حرامو یوه نمړۍ وخوړله د هغهٔ به د 40 ورځو پورې نـمونځونه او دعاګانې نهٔ قبلیږي ❁ نور پهٔ یو روایت کښې دي: د انسان خیټې ته چې کله د حرامو یوه نمړۍ لاړه شي، د زمکې او اسمان هره فرښته پهٔ هغهٔ باندې تر هٰغه وخته پورې لعنت وائي تر څو پورې چې د حرامو هٰغه نمړۍ د هغهٔ پهٔ خیټه کښې وي او که چرې پهٔ دې حالت کښې مړ شو نو د هغهٔ ځائے دوزخ دے-

سود و رشوت میں نحوست ہے بڑی | نیز دوزخ میں سزا ہو گی کڑی

## د ناحقه سوال غوښتلو وبال

حدیث پاک کښې دي:کوم ګس چې د خلقو نه سوال کوي، حالانکې نهٔ هغهٔ وږے وي، نهٔ یـې دومره بال بچ وي د کومو [د پاللو] چې وَس نه لري نو د قیامت پهٔ ورځ باندې به داسې راځي چې د هغهٔ پهٔ مخ باندې به غوښه نه وي - (1) ❁ معجم کبیر کښې حدیث پاک دے:کوم ګس چې بغیر د حاجت نه سوال کوي، لکه چې هغهٔ سکروټې خوري- (2) ❁ مسلم شریف کښې حدیث پاک دے:څوک چې د مال زیاتولو د پاره سوال کوي، هغهٔ

---

1... شعب الایمان ج۳ ص ۲۷۴ حدیث ۳۵۲۶ دارالکتب العلمیۃ بیروت)۔
2... (المعجم الکبیر، ج۴ ص۱۵ حدیث ۳۵۰۶ دار احیاء التراث العربی بیروت)۔

د سکروټو سوال کوي برابره خبره ده که د کم غواړي او که د زیاتو سوال کوي-[1] کوم کَس چې د خلقو نه سوال کوي، دې د پاره چې خپل مال زیات کړي نو هغهٔ د دوزخ ګرمه ګټه ده، اوس هغهٔ ته اختیار دے، کم غواړي او که زیات غواړي-[2]

## د رشوت وبال

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! حرام مال ګټل، خوړل او په خپله ښځه او بچو باندې خوړل تول وبال دے، په عام طور نیک پرهیزګاره په نظر راتلونکي خلق هم د عِلمِ دِین د کمي په وجه د دې وبال ښکار کیږي، ځکه مونږ له پکار دي چې د عاشقان رسول علمائے کرامو سره په رابطه کښې اوسو او بنیادي ضروري عِلم زده کړو، د دار الافتاء اهلسنت نه د خپلو معاملو په باره کښې پوښتنې کوو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د دې په برکت به د حرام مال د سپیرهٔ والي نه په بچ کیدو کښې کامیاب شو ګنې چرته دا مال حرام مونږه په اخرت کښې برباد نهٔ کړي-

| | |
|---|---|
| حُسنِ ظاہر پر اگر تُو جائے گا | عالمِ فانی سے دھوکہ کھائے گا |
| یہ مُنَقّش سانپ ہے ڈس جائے گا | کر نہ غفلت یاد رکھ پچھتائے گا |
| ایک دن مرنا ہے آخر موت ہے | کرلے جو کرنا ہے آخر موت ہے |

الله پاک دې مونږ ته د حلال رزق ګټلو، هم د حلال خوړلو، د حرامې نمرۍ نه همیشه د بچ کیدو توفیق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## په حلاله طریقه د ګټلو مَدَني ګل

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! صرف سود او رشوت وغیره حرامه ګټه نه ده، دحرامې ګټې نور هم ډیر اندازونه دي، بعضې وخت مونږه ګڼو چې زهٔ حلاله ګټه کووم خو په هغې

[1] … (صحیح مسلم ص ۵۱۸، حدیث ۱۰۴۱ دار ابن حزم بیروت)۔

[2] … (الاحسان بترتیب صحیح ابن حبان ج۵ ص ۱۶۶ حدیث ۳۳۸۲ دارالکتب العلمیۃبیروت)۔

کښې د حرامو ملاوټ شوے وي، ځکه ضروري دي چې مونږه د حلالې ګټې په باره کښې ضروري عِلمِ دِين هم حاصل کړو- د امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ډيره ښکلې رساله ده: **حلال طریقے سے کمانے کے 50 مدنی پھول**- دا رساله هر مسلمان له لازمي لوستل پکار ده- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د روزګار میلاویدلو وظیفه

2رکعته نمونځ اداکړئ او د سلام ګرځولونه پس 182ځله يَالَطِيفُ(اول اخرکښې يو ځل درودشريف)ولولئ او دجائز او اسان ملازمت یا حلال روزګار میلاویدو دپاره دعا اوکړئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم قبليږي به

## په 12 دیني کارونو کښې يو ديني کار: هفته واره مدني مذاکره

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د اخرت د ويرې حاصلولو، د نیکو اعمالو د جذبې موندلو، د ګناهونو نه د ځان بچ کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ- په 12 ديني کارونو کښې هم پوره برخه اخلئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دِين او د دُنیا بے شمیره برکتونه به مو نصيب شي- په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار هفته واره مدني مذاکره هم ده-

❁ امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د دي وخت عظيم علمي او روحاني شخصيت بلکې کامِل ولي دے، هغوئي د هر خالي په ورځ د شپې د ماسخوتن د نمونځ نه پس مدني مذاکره کوي يعني د تولې دنيا نه عاشقانِ رسول د تفسير، حديث، شريعت، طريقت وغيره په مختلفو موضوعاتو باندې پوښتنې کوي، امیرِ اهلِسُنَّت د هغه پوښتنو جوابونه ورکوي- هفته واره مَدَني مذاکره د ماسخوتن د نمونځ نه

پس پۀ مدني چینل باندې نیغ پۀ نیغه (*Live*) ښودلے شي- **مدني مذاکره د عقیدې او د اعمالو د اصلاح بهترینه ذریعه ده:** ❀ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! اوسه پورې پۀ سوونو کافرانو د مدني مذاکرې کتلو سره کلمه وئیلې ده ❀ پۀ لکونو بے نمانځه نمونځ ګزاره جوړ شوي دي ❀ د زرګونو زړونو اِصلاح شوې ده-

❀ تاسو هم په مدني مذاکره کښې شرکت کوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! ❀ عِلمِ دِین به درته حاصل شي ❀ د الله پاک محبت به مو نصیب کیږي ❀ پۀ عشقِ رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې به زیاتوالے راځي ❀ د ګناهونو نه به مو نفرت نصیب کیږي ❀ د نیکۍ جذبه به درته میلاویږي او ❀ پۀ اخلاقو او کردار کښې به مو هم بهتري راځي- ټول اِسلامي ورونړه پۀ پابندۍ سره د مَدَني مذاکرې کتلو نیت وکړئ!-

## د عِلم او حکمت نه ډکه مَدَني مذاکره

د یو ځلمي بیان دے: نمونځونه قضا کول، فلمونه کتل او شیطان خوشحالول او سندرې سازونه وغیره اوریدل او مست اوسیدل زما معمول وو، آه! زۀ پۀ سُنَّتو باندې د عمل کولو نه محرومه ووم، زما د ګناهونو نه پۀ ډک ژوند کښې رڼائي څۀ داسې راغله چې یوه ورځ د دعوتِ اِسلامي د یو مبلغ سره زما ملاقات وشو، هغۀ زۀ پوهه کړم او زما یې پۀ اجتماعي سُنَّت اعتکاف کښې د کښیناستو ذهن جوړ کړو، د هغۀ پۀ ښکلي انداز کښې راکړے شوي د نیکۍ دعوت زما پۀ زړۀ باندې اثر وکړو او زۀ پۀ اجتماعي اعتکاف کښې شریک شوم، بیا زما شپې او ورځې پۀ عبادت کښې تیریدلې، زړۀ راښکونکو بیانونو او ژړغونو دعاګانو زما د زړۀ دُنیا بدله کړه، د کرم د پاځه کرم دا وشو چې پۀ اجتماعي اعتکاف کښې د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د مَدَني مذاکرې اوریدو سعادت نصیب شو، د هغوئي د اثرناکو ارشاداتو نه زۀ دومره متاثره شوم چې ما

فوراً د خپلو ټولو ګناهونو نه توبه کړه او د نـمونځونو د پابندئ اراده مې وکړه، د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه په ترغیب راکولو زۀ د اختر په شپه کور ته د تللو په ځائے د الله پاک د لارې مسافر جوړ شوم چرته چې د عِلمِ دِین د حاصلولو موقع په لاس راغله او د سُنَّتو د زده کولو سره سره مې په هغې باندې د عمل کولو جذبه هم نصیب شوه-

مدنی مذاکرہ ہے شریعت کا خزینہ | اَخلاق کا، تہذیب کا، طریقت کا خزینہ

صَــلُّــوْا عَــلَی الْـحَــبِـیْــب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## قرآن ټیچر موبائل ایپلي کیشن

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن سبا د ټیکنالوجئ دور دے- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د قرآنِ کریم د فیضان عام کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي ***I.T*** ډیپارټمنټ یو موبائل ایپلي کیشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: قرآن ټیچر(***Quran Teacher***)- د دې ایپلي کیشن یو څو اهم خاصیتونه: ❀ په دې ایپلي کیشن طالبِ علمان د درسِ نظامي، فیضانِ نماز کورس او زکوٰة کورس په شان د بے شمیره آن لائن کورسونو د پاره رجسټریشن کولے شي ❀ په ایجوکیشن پورټل (***Educational Portal***) کښې د خپل آن لائن کلاس د حلو ځلو په باره کښې ځان خبر ساتلے شي ❀ د دعوتِ اِسلامي په دې پلیټ فارم باندې تقریباً د55 اِسلامي کورسونه کولے شي- ❀ دا ایپلي کیشن د آئن لائن کیدونکو کورسونو په باره کښې هم معلومات ورکوي- تاسو هم د خپلې خوښې مطابق د هر یو کورس انتخاب کولے شئ او بغیر د څۀ مشکل نه د آن لائن قرآن زده کولو د پاره داخله اخستے شئ- دا ایپلي کیشن ډاؤن لوډ کړئ او بچپله ترینه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغیب وکړئ-

صَــلُّــوْا عَــلَی الْـحَــبِـیْــب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# يو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي پهٔ ورځ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ مَدَني چينل لائيو **هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې هفتې پهٔ ورځ به هم د ماسخوتن د نـمانځه نه پس پهٔ مَدَني چينل باندې اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پهٔ کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمدالياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❁ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې دِيني رسالې د لوستلو اعلان کوي، پهٔ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله **د ښه صحت لرونکو خوراکونو پهٔ باره کښې 16 سوالونه او جوابونه** اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (***Share***) کړي! ❁ د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د پاک ژوند اهمې خبرې او د اوليائے کرامو پهٔ باره کښې د اهمو معلوماتو خزانه پهٔ يو وړوکې رساله کښې راجمع کړے شوې ده، کومه چې مکـتبة الـمدينه د **پیارے مرشد** پهٔ نوم د چاپ کولو سعادت حاصل کړے دے- تاسو دا رساله د مکـتبة الـمدينه د يوې څانګې نه پهٔ **18 روپۍ** پهٔ بيعه واخلئ- دا پخپله هم ولولئ! او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ! ❁ د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د لوئي يولسمي شريف پهٔ موقع مجلسِ **تقسيمِ رسائل** وړاندې کوي: **فيضانِ غوثيه پيکج-** دا پيکج هم د مکـتبة الـمدينه د يوې څانګې نه پهٔ **200 روپۍ** پهٔ بيعه حاصل کړئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بیان په اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به په جنّت کښې زما سره وي- (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ګیره پریښودل سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دي

د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: بریتونه کټ کړئ او ګیرې غټې کړئ د مجوسیانو مخالفت وکړئ! (2)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! ګیره پریښودل سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بلکې سُنَّتِ انبیا دي ❁ زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګیره مبارکه به په پلن والي کښې داسې وه چې سینه مبارکه به یې ډکوله- (3) ❁ او په اوږد والي کښې به یې همیشه د یو موټې په مقدار ساتله ❁ که د یو موټې نه به غټه شوه نو وړه کوله به یې- ځکه علمائے کرام فرمائي چې د یو موټې نه غټه ګیره وړه کول سُنَّت دي- (4)

[1] ... تاریخِ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔
[2] ... مسلم، کتابُ الطهارت، باب: خِصَالُ الْفِطْرَة، صفحہ:153، حدیث:257۔
[3] ... انوارِ جمالِ مصطفٰے، صفحہ:157 خلاصۃً۔
[4] ... فتاوٰی رضویہ، جلد:22، صفحہ:590 بتغیر قلیل۔

❀ آخري نبي، رسولِ هاشمي، مكي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به کيره خَريل او بريت غټول بيخي نه خوښول ❀ پۀ بهارِ شريت کښې دي چې کيره خريل يا د يو موټې نه کمول حرام دي۔ [1]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتيں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اِسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

سنتيں سيکھنے تين دِن کے لئے | ہر مہينے چليں، قافلے ميں چلو [2]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1 ... بہارِ شريعت، حصہ:16، جلد:2، صفحہ:586۔
2 ... وسائلِ بخشش، صفحہ:670۔